مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۸/۱۱/۱۶

# غزل

د مرګ ابزار دوئ جوړوي او ترهګر ما بولي
وحشت په هر لور خپروي او ترهګر ما بولي

کله په سره، کله په سپین او کله تور رنګیږم
په بهانو مي قتلوي او ترهګر ما بولي

قلم مي مات کړي او په لاس راته ټوپک راکوي
په پردي جنګ مي سوځوي او ترهګر ما بولي

جوړ کړی دوئ دی اختلاف د سکه ورونو مېنځ کې
څه په هنر مي جنګوي او ترهګر ما بولي

زما پټکي او خړ ټادر باندي شکونه کوي
په پيغورو مي شرموي او ترهګر ما بولي

زما خو کور دی، زه مجبوره يم اوبه ورشيندم
لمبو ته دوئ پوکي کوي او ترهګر ما بولي

خپله ګناه کوي په تور يي پسرلی تورروي
د خدای کورونه ورانوي او ترهګر ما بولي

مصطفی پسرلی
26/09/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ